PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو ناسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای پیغمبره! د خپل رب د لیارې په لور په حکمت او نیک اسلوب بلنه وکړه. او په خورا نیکه او غوره توګه ورته خپل هدف وراندی کړه. ځکه چې ستا رب ته ښه معلوم دی چې څوک دهغه له لیارې نه اوښتي او څوک په سمه روان دی.
(النحل: ۱۲۵)

درس حدیث

از نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) روایت است که
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همدیگر مانند یک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آید، دیگر اعضای جسد در تب و بیدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق علیه)

شهادت پنځم کال، ۳۲ مه ګڼه، پرله پسې ۲۳۵ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د مرغومی ۲۴ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د ربیع الاول ۱۳ مه د۲۰۱۴ م د جنوری ۱۴ مه

پیام رئیس حزب اسلامی افغانستان

بمناسبت روز خجستهٔ مولود مسعود منجی بشریت صلی الله علیه وسلم

بسم الله الرحمن الرحیم
((وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ))

روز خجسته و پرمیمنت مولود با سعادت پیامبر گرامی اسلام و منجی بشریت در تاریخ بشر جایگاه خاصی دارد. این روز با سعادت مژده نجات از سیاهیهای جهل و گمراهیها برای تمام عالم بشریت اعم از مرد و زن و پیر و جوان است، پیام نجات بخشی را که حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم با خود برای بشریت به ارمغان آورد مخاطب آن کدام گروه خاص و کدام قوم خاص و باشندگان سرزمین خاص نبود، بلکه پیام او آفاقی و همه گیر و برای کافهٔ بشریت بود از همین جهت است که حکیم الامت حضرت علامه اقبال میفرماید:

به مصطفی برسان خویش را که دین همه اوست
اگر به او نرسیدی تمام بولهبیست

اکنون عالم اسلام بصورت خاص و جهان بشریت بصورت عام وظیفه دارد، از شمع تابانی که با دستان مبارک هادی بشریت (صلی الله علیه وسلم) روشن شده تمام زوایای زندگی فردی و اجتماعی خود را روشن کند، و ...

(ص ۴)

جانان موسی زی؛

د افغانستان او سیمې د سولې په اړه خبرې به د استانبول د پروسې د اجنډا مهمه برخه وي

په دغه ناسته کې به پر اقتصادي راکړې ورکړې او هم په بېلا بېلو برخو کې د سیمې د هېوادونو تر منځ د باور جوړونې پر تدابیرو خبرې وشي

کابل، رسنۍ؛
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت وايي؛ د آسیا د زړه هېوادونو د جګپوړو چارواکو د راتلونکې غونډې په اماده‌ګیو لا له مخکې په کابل کې د غړو هېوادونو سفیرانو بحثونه کړي دي.
ټاکل شوې د استانبول پروسې یا د آسیا د زړه هېوادونو لوړ پوړي چارواکي د روان میلادي کال د جنوری په اولسمه په نوي ډهلي کې غونډه وکړي.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت وايي؛ په دغه ناسته کې به پر اقتصادي راکړې ورکړې او هم په بېلا بېلو برخو کې د سیمې د هېوادونو تر منځ د باور جوړونې پر تدابیرو خبرې وشي.
د دغه وزارت ویاند جانان موسی زی په دغه ناسته کې د افغانستان او سیمې د سولې په اړه خبرې د اجنډا تر ټولو مهمه برخه بولي....

(۴ مخ)

امریکایي او برتانوي کمپنۍ د بلخاب د مسو کان ګټونکې شوې

د کان ساحه چې په قرارداد کې شامله ده پنځه سوه کیلومتره مربع مساحت لري او د اټکل له مخې له سل میلیونه ټن زیات مس به په کې وي

کابل، رسنۍ:
د امریکایي او برېتانوي پانګوالو په ګډون د کانونو د استخراج یوې کمپنۍ د افغانستان په شمال کې د مسو د یوه ستر کان قرارداد ګټلی. د سرپل ولایت د بلخاب ولسوالۍ د مسو کان د نړۍ د مسو له نامتو زېرمو څخه دی او ان د افغانستان حکومت یې د نړۍ د مسو تر ټولو ستر کان بولي خو د دې کان د استخراج په قرارداد کې په سلو کې یوپنځوس ونډه افغاني شرکتونو او پاتې نه ځلوېښت یې...

(۴ مخ)

شورای انسجام شهر کابل (حوزه مرکزی) در مقر دفتر حزب اسلامی جلسه مهم را دایر نمود

شهادت:
جلسه شورای انسجام شهر کابل (حوزه مرکزی) که به اشتراک همهٔ برادران مرتبط به حزب اسلامی افغانستان مقیم کابل که در آن از همهٔ اقشار ملت اعم از تاجک، پشتون، هزاره، ازبیک، بلوچ، ترکمن، نورستانی وغیره اقوام ساکن کشور حضور دارد. بتاریخ ۱۲/جدی/۱۳۹۲ با حضورداشت نماینده گان نواحی (۲۲) گانهٔ شهر کابل تحت رهنمایی...

(ص ۴)

بلی؛ انتخابات مهمتر از بستن یا نبستن قرارداد امنیتی با امریکاست

فدا محمد فایض

واقعاً مسأله انتخابات در حقیقت مهمتر از موضوع امضای پیمان امنیتی با امریکاست. گرچه این مسأله هم بهیچوجه کم اهمیت تر نیست بخاطری که افغانستان در هر دو حالت زیان می بیند، اگر قرارداد را امضا میکند، حضور امریکا تا یک مستقبل نامعلوم هم برای افغانستان بدون پرداخت بها نیست. نفع این حضور را بدون شک امریکا می برد؛ زیرا این امریکاست که در منطقه اهداف ستراتیژیک وسیع دارد و میخواهد خود را به آن اهداف برساند و برای رسیدن به این اهداف نیاز به یک مقر دارد تا در آن آرام بگیرد و از آنجا اهداف خود را تحت نظر داشته باشد؛ ولی همسایه ها و کشورهای منطقه انتقام این حضور را از افغانستان میگیرند، با آنکه بعضی از کشورها از ترس امریکا مخالفت خود را آشکار نمیکنند؛ ولی از لحن هر کدام فهمیده میشود که هیچکدام به این راضی نیست که امریکا برای آیندهٔ نامعلومی در افغانستان حضور داشته باشد، چون اهداف امریکا در همین کشورهای منطقه است؛ شرق میانه، آسیای میانه، آسیای جنوبی، چین، روسیه این همه منطقه در اهداف امریکا شامل است، فلهذا وقتی دشمن آنها می آید و در نزدیکی آنها اتراق میکند بدیهی است که آنها جداً احساس خطر میکنند؛ اگر قرارداد امضا نمیشود هم، امریکا برای افغانستان مشکلات زیادی ایجاد میکند.

(ص ۲)

له قوانینو بهرني سرغړوونکي شرکتونه افشا کېږي

ایسا وايي د ۲۰۱۲ کال پرتله په ۲۰۱۳ کال کې د پانګونې کچه ۲۵ سلنه لوړ شوې وه او په پام لري چې په ۲۰۱۴ کال کې د دغې کچې د لا ډېرو لوړولو لپاره صنعتي بانک رامنځ ته شي، چې کېدای شي هغه بانک پښتني بانک وي

بي بي سي؛
په افغانستان کې د پانګونې د ملاتړ اداره ایسا وايي هغه پانګه وال چې په صنعتي پارکونو کې یې ځمکه ترلاسه کړې او صنعتي فعالیت په کې نه کوي، په یوه نیمه میاشت کې باید صنعتي فعالیت پیل کړي که نه نو ځمکه به یې مسترد شي.
کابل کې د بي بي سي همکار وايي، د صنعتي پارکونو د اړونده ځمکو غصب او د انرژۍ کموالی هغه لوی ستونزې دي چې په افغانستان کې د پانګونې په وړاندې لوی خنډونه...

(۴ مخ)

د خواخوږۍ او ډاډګیرنې پیغام

په ډېر تأسف مو خبر ترلاسه کړ چې د حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو ټولنې د فرهنګي څانګې د مسؤول مدیر محترم ورور قاري اسدالله شهاب مېرمن د وریښتې ناروغۍ له کبله پرون له دې پاتې نړۍ نه سترګې پټې کړې.
د حزب اسلامي د ځوانانو ټولنه د قاري اسدالله شهاب او دهغه له کورنۍ سره په دې غم کې خپل ځان شریک بولي. لوی الله دې مرحومې ته جنت الفردوس او کورنۍ ته یې جمیل صبر په نصیب کړي. آمین

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

رحمة للعالمین رسول ﷺ

لوی الله (جل جلاله) محمد (صلی الله علیه وسلم) ته پخپل سپیڅلي کتاب قرآن کریم کې رحمة للعالمین خطاب کړی دی او فرمایلي یې دي چې: ((ته مې ټولو مخلوقاتو ته د رحمت په توګه استولې یې.)) ددې باوجود چې موږ د افغانستان مسلمان وګړي د محمد صلی الله علیه وسلم امتیان یو او هغه صلی الله علیه وسلم خپل رسول او لارښود ګڼو، مګر بیا هم د رحمة للعالمین د رحمت هغه کونجي مو لا تراوسه نه ده ترلاسه کړي چې د رحمت د خزانو ورونه زموږ پر وړاندې پرانیزي، موږ که څه هم په ډېر فخر خپل ځانونه د محمد صلی الله علیه وسلم امت (ډله) بولو او د شهادت په کلمه کې د الله جل جلاله له نوم سره یو ځای د محمد (صلی الله علیه وسلم) نوم هم په خوله اخلو؛ خو تراوسه مو د عمل په ډګر کې دا نه دی ثابت کړی چې موږ هم د اصحابو په څېر د محمد صلی الله علیه وسلم هغه رښتوني امتیان یو چې هغوی پخپل ژوند کې د محمد صلی الله علیه وسلم د سنتو په پیروي کولو سره په عملي بڼه ثابته کړی وه. د محمد صلی الله علیه وسلم رسالت او پیغمبري منل دا مانا لري چې د ژوند په ټولو چارو کې هغه صلی الله علیه وسلم لارښود او مقتدا وګڼل شي، خو متأسفانه زموږ د ژوند زیاته برخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنت او سیرت نه خالي ده او هر چا ځانله لارې او ګودرې جوړې کړي دي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول ژوند موږ لپاره د یو واضح او څرګند قانون په توګه موجود دی، هغه (صلی الله علیه وسلم) چې پخپل ژوند کې څومره دیني او دنیوي چارې پرمخ بیولې، دهغوی منل او بیا وړاندې کلک عمل کول زموږ سترو مسؤولیتونو څخه ګڼل کېږي ځکه چې ایمان یواځې دا نه دی چې محمد صلی الله علیه وسلم صرف د رسول په توګه ومنل شي او بس؛ بلکې ددې خبرې هم ضرورت دی چې دهغه صلی الله علیه وسلم بشپړ اطاعت او منښه وشي، هغه چې موږ ته د کومو چارو د ترسره کولو امر کړی هغه وکړو او له کومو کارونو څخه یې چې منع کړي یو هغه ترسره نکړو. له څه شک پرته زموږ ایمان تر هغه پوره نه دی تر څو مو چې د ژوند په ټولو چارو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو پیروي نه وي کړې او دهغه صلی الله علیه وسلم هر کار او هرې خبرې ته مو له نورو کارونو او خبرو څخه لومړیتوب نه وي ورکړی.

زموږ ډېری مسلمانان فکر کوي چې یواځې د لا اله الا الله محمد رسول الله کلمه ویل دهغوی لپاره کافي ده او نور چې په ژوند کې هر څه کوي آزاد دي، نه خیر! دا کاملاً غلط فکر او غلطه عقیده ده. ددغې کلمې په ویلو موږ په دې خبره مکلف یو چې د ژوند ټولې چارې د الله تعالی او دهغه د رسول محمد صلی الله علیه وسلم د لارښوونو په رڼا کې پرمخ یوسو. د محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت کول په حقیقت کې د الله جل جلاله اطاعت کول دي، تر څو پورې چې د ژوند ټولې چارې د محمد صلی الله علیه وسلم د اطاعت په رڼا کې پرمخ لاړې نشي د الله تعالی د اطاعت او بندګۍ مفهوم نشي ترلاسه کېدلی. لذه دا چې د الله پر دین زموږ عقیده تر هغې تحقق نشي موندلی تر څو چې مو د محمد صلی الله علیه وسلم اتباع او اطاعت پر ځان نه وي لازم کړی، ځکه چې الله تعالی پخپل سپیڅلي کتاب قرآن کریم کې په څرګندو ټکو کې موږ ته فرمایلي دي چې: ((هر چا زما د رسول اطاعت وکړ هغه زما اطاعت وکړ.)) همداراز الله تعالی محمد صلی الله علیه وسلم ته فرمایلي دي: ((ته دوی ته ووایه که تاسې له الله سره مینه لرئ؛ نو بیا زما اتباع وکړئ تر څو الله له تاسو سره مینه وکړي.))

له دغو پورتنیو الهي لارښوونو څخه دا ترلاسه شو چې د محمد صلی الله علیه وسلم پر امتیانو دا فرض ګرځول شوی چې پخپلو ټولو دیني او دنیوي چارو کې د خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم پیروي وکړي او په هر څه کې همغه (صلی الله علیه وسلم) خپل لارښود او مقتدا وګڼي، نه دا چې په خوله ځانو ته د محمد صلی الله علیه وسلم امتي ووایي خو د عمل په ډګر کې د نورو شیطاني ډلو ټپلو اطاعت وکړي.

دا چې موږ هر کال د ربیع الاول په دولسمه د محمد صلی الله علیه وسلم د زېږېدو د ورځې جشن نمانځو دا واقعیت هم باید په نظر کې ونیسو چې یوازې د محمد صلی الله علیه وسلم د میلاد د ورځې په نمانځلو او دهغه د سیرت او فضایلو په بیانولو زموږ هغه مسؤولیت نه ترسره کېږي چې الله جل جلاله او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم زموږ پر غاړه اچولې؛ بلکې په هغه صورت کې خپل دغه دروند مسؤولیت ترسره کولې شوو چې د ژوند په ټولو چارو کې د محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت پر ځان لازم وګرځوو.

که موږ واقعاً غواړو چې د رحمة للعالمین له رحمته په صحیح مانا برخمن شو او پخپل ژوند کې د بري او پرمختګ پړاوونه ووهو، د نړۍ په سر یو مثالي او تقلید وړ امت په څېر وپېژندل شوو؛ نو بیا ددې تر ټولو آسانه لاره همداده چې له هر څه دمخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت په ځان کې پیدا کړو او خپلې ټولې دیني او دنیوي چارې دهغه صلی الله علیه وسلم د متابعت په رڼا کې پرمخ یوسو.

محمد خلیل

د مسلمانانو ترمنځ اتفاق الهي امر دی

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

هر مسلمان په دې خبره ښه پوهېږي چې زموږ د اسلام په سپیڅلي دین کې د مسلمانانو ترمنځ افتراق او اختلاف حرام دی، د کائناتو خالق او مالک ذات د مؤمنانو ترمنځ پر اتفاق او یووالي ټاکید کړی دی او خپل نصرت یې له هغو سره مشروط کړی‌دی چې د اتفاق او یووالي په منظم صف کې ولاړ وي.

انساني تجربه او ځمکنی حقایق هم په همدې خبره ګواهي ورکوي چې یوازې هغه قومونه دخپل ژوندانه په چارو کې پرمختګ کولې شي چې پخپلو کې سره یو موټي او یو غږ وي، یو دریځ او یو شعار ولري، چې کله هم له کومو ستونزو سره لاس او ګریوان شي په ګډه له هغه نه د خلاصون لپاره د عمل ډګر ته وردانګي، په هره مسئله کې له یو بل سره مشوره کوي او دهغه د حل لپاره په یو غږ او په یو شعار خپل ټول مادي او معنوي ځواک په کار اچوي، ددې برعکس هغه ولسونه چې تل خپلمنځیو اختلافاتو او کشمکشونو کې راګیر دي او د یو بل پښې وهي هغوی نه یوازې دا چې د خپلو مسایلو په حلولو کې ناکام پاتې شوی؛ بلکې تل یې د هلاکت او ذلت څپېړه هم پرمخ خوړلې. که له واقعیتونو سترګې پټې نه کړو نو له تېرو څو لسیزو راهیسې چې موږ افغانان له کومو ملا ماتوونکو ستونزو سره لاس او ګریوان یو، ددې یواځینی علت همدا اختلاف او افتراق دی نه بل څه، چې کله هم د افغانانو ترمنځ له اوږدې سودې راهیسې دغه راروان اختلافونه او کشمکشونه ختم شي: نو که په سلو کې سل نه وي ۷۰ غټې ستونزې خو مو ضرور حل کېږي، همدغه اصل ته په پاملرنې سره حزب اسلامي او جمعیت اسلامي ورونو چې په فکري ډګر کې هېڅ ډول اختلاف نه لري او دواړه د یوې عقیدې لاروي دي پرېکړه وکړه چې د هېواد او ولس د ښه خدمت په خاطر د یو بل ترڅنګ ودرېږي، که څه هم په هېواد کې دننه او باندې د افغانستان زیاترو ورونو ددغه اتحاد تود هرکلی کړی او دا یې د اسلام او هېواد په ګټه بللی خو ځینې ورونه بیا ددغه نیک اقدام په خلاف نه یوازې داچې خپل مخالفت ښکاره کوي؛ بلکې ددې د رنګولو لپاره هم خپل فرصت له لاسه نه ورکوي، په داسې حال کې چې دهغوی دغه اقدام د الله جل جلاله او دهغه د رسول محمد صلی الله علیه وسلم له هغو اوامرو سره کلکه دښمني ده چې د مسلمانانو د یووالي او اتحاد لپاره پکې ټاکید شوی دی.

> الله تعالی مسلمانانو ته امر کوي چې تاسې پخپلو کې د نیکۍ او تقوا په کارونو کې له یو بل سره مرسته وکړئ؛ له څه شک پرته حزب اسلامي، جمعیت اسلامي او وحدت اسلامي مردم افغانستان پخپلو کې د اتحاد او ورورۍ د لاسونو په ورکولو سره د همدغې نیکۍ او تقوی په لور ګامونه اوچت کړی دي، نه د ګناه په لور.

دا چې په هېواد کې د دریو لویو اسلامي تنظیمونو ترمنځ اتحاد شوی دی ددې پر ښه والي هېڅ مسلمان انکار نشي کولې او نه هم څوک په شرعي لحاظ ددې حق لري چې بد ورته ووایي ځکه چې الله تعالی د ((انما المؤمنون اخوة)) په ویلو سره د مسلمانانو ترمنځ د ورورولۍ اړیکې غوښتي دي، فلهذا له اسلام، هېواد، ولس او استقلال سره مینه لرونکو ټولو افغانانو ته پکار دي چې ددغه نیک اقدام په ملاتړ د مسلمانانو قوت نور هم غښتلی کړي ځکه چې مسلمانان تر هغه یو غښتلی امت نشي جوړېدلی تر څو پورې چې پخپلو کې یې د ورورولۍ او اتفاق اړیکې نه وي جوړې کړي او تر هغه ځواکمن او عزت من قوم په توګه تبارز نشي کولی تر څو پورې چې ددین او دنیا ټول کارونه یې په ګډه پرمخ نه وي وړي؛ ځکه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم مؤمنانو ته لارښوونه کړې ده چې مؤمنان دې د خپلې پیاوړتیا په خاطر باید پخپلو کې د عمارت د هغو خښتو په څېر واوسي چې پر یو بل د ایښودلو په نتیجه کې مضبوط عمارت ترینه جوړېږي. د اسلام د سپیڅلي دین ددغو لارښوونو په رڼا کې موږ د افغانستان ټولو مؤمنو ورونو ته په ډېر فخر او جګو سترګو وایو چې موږ ددغه اتحاد په قائمولو سره د الهي حکم د ترسره کولو ترڅنګ مو د خپل ځورېدلي او کړېدلي ولس ارمانونه هم پوره کړي دي. زموږ هغه ورونه چې ددغه اتحاد مخالفت کوي لږ غوندې دې پدې خبره‌هم فکروکړي چې پخپلو دغو مخالفانه کړنو چاته ګټه رسوي او دچا موقف غښتلې کوي د دوست او که د دښمن؟! بیشکه چې اتفاق او سوله دالله غوښتنه او د مسلمانانو په ګټه ده. له داسې کار سره مخالفت کول چې الله تعالی ورته پخپل کتاب کې خیر ویلې دي له الله او اسلام سره له دښمنۍ پرته بل هېڅ مفهوم نه لري.

هیله ده چې زموږ د افغانستان مسلمان ولس ددغو عناصرو په خلاف ډېر حساس او ځیرک واوسي، نه یواځې دا چې دغو اسلام دښمنو عناصرو پروپاګندو ته غاښ ماتوونکی ځواب ووایي؛ بلکې ددغه اتحاد په غښتلی کولو کې تر آخری توانه خپلې هلې ځلې هم ونه سپموي، تر څو افغانستان د تل لپاره د دښمنۍ او بې اتفاقۍ له غټې بلا نه خلاص او د امن او ورورۍ په خوږه فضاء کې ژوند ترسره کړي.

بلی؛ انتخابات مهمتر از بستن یا نبستن قرارداد امنیتی با امریکاست

فدا محمد فایض

احمد رشید ژورنالست مشهور پاکستان که همواره در مورد منطقه بخصوص در مورد افغانستان تحلیلهای خوبی ارائه میکند و کتابی هم در مورد تحریک طالبان برشتهٔ تحریر درآورده است، در یک تحلیل اخیر خود که روزنامهٔ چراغ آن را در شماره مؤرخ ۲۱ جدی ۱۳۹۲ به نشر سپرده است به یک مسألهٔ مهم اشاره یی داشته است و آن، اینکه نگاههای عمومی بیشتر بسوی امضای پیمان امنیتی بین افغانستان و امریکا معطوف شده است؛ اما مسأله مهمتری که پیش روی افغانستان است، موضوع انتخابات است؛ زیرا ملت افغانستان توسط همین انتخابات قیادت جدید خود را برمیگزینند.

واقعاً مسأله انتخابات در حقیقت مهمتر از موضوع امضای پیمان امنیتی با امریکاست. گرچه این مسأله هم بهیچوجه کم اهمیت تر نیست بخاطری که افغانستان در هر دو حالت زیان می بیند، اگر قرارداد را امضا میکند، حضور امریکا تا یک مستقبل نامعلوم هم برای افغانستان بدون پرداخت بها نیست، نفع این حضور را بدون شک امریکا می برد؛ زیرا این امریکاست که در منطقه اهداف ستراتیژیک وسیع دارد و میخواهد خود را به آن اهداف برساند و برای رسیدن به این اهداف نیاز به یک مقر دارد تا در آن آرام بگیرد و از آنجا اهداف خود را تحت نظر داشته باشد؛ ولی همسایه ها و کشورهای منطقه انتقام این حضور را از افغانستان میگیرند، با آنکه بعضی از کشورها از ترس امریکا مخالفت خود را آشکار نمیکنند؛ ولی از لحن هر کدام فهمیده میشود که هیچکدام به این راضی نیست که امریکا برای آیندهٔ نامعلومی در افغانستان حضور داشته باشد، چون اهداف امریکا در همین کشورهای منطقه است؛ شرق میانه، آسیای میانه، آسیای جنوبی، چین، روسیه این همه منطقه در اهداف امریکا شامل است، فلهذا وقتی دشمن آنها می آید و در نزدیکی آنها اتراق میکند بدیهی است که آنها جداً احساس خطر میکنند؛ اگر قرارداد امضا نمیشود هم، امریکا برای افغانستان مشکلات زیادی ایجاد میکند.

اما با این همه، واقعاً انتخابات آیندهٔ افغانستان خیلی با ارزش تر است و احمد رشید واقعاً به یک مطلب بسیار مهم متوجه شده است. ملت افغانستان بدون شک به ارتباط انتخابات آیندهٔ ریاست جمهوری تشویش دارد. این تشویش از چندین ناحیه است:

۱- از ناحیه امنیتی:

اگر هر قدر هم دولت سعی کند درین رابطه به ملت اطمینان بدهد؛ ولی این اطمینان یک اطمینان راستین نخواهد بود.

کمیسیون مستقل انتخابات اعلان کرد که ۴۱۴ مرکز رای دهی در وقت انتخابات مسدود خواهند ماند و این اعلان هم بعد از ارائه گزارش از سوی ارگانهای امنیتی و در مشورت با آنها صورت گرفته است. از امکان بدور نیست که این تعداد، افزایش هم بیابد و وضع وخیمتر از امروز شود. با آنکه نشستهایی با سران کشورهای همسایه به ارتباط قطع جنگ و تأمین صلح در کشور صورت گرفت و در نظر است این نشستها ادامه یابد چنانچه عنقریب نشستی در ترکیه تدارک دیده شود؛ اما تا بحال با آنکه چراغهای سبزی به ارتباط صلح در افغانستان از سوی این کشورها داده شده است؛ اما در عمل نمیبینیم که گامی بسوی صلح برداشته شده باشد.

علت اساسی این سیاستهای دوگانه این است که خود کشورهای همسایه هر کدام در بین خود یکصدا نیستند؛ مثلاً حکومات ملکی به یک راه میروند و نظامیان براه دیگر، اینکه کدام یک حق بجانب اند، بحث جداگانه می طلبد؛ اما آنچه واقعیت است این است که یکصدایی بین اردو و سیاستمداران ملکی وجود ندارد، فلهذا وعده ها و تعهدهای سیاستمداران ملکی بدون قف سر دریا معنا و مفهوم دیگری ندارد و نمیتواند داشته باشد.

۲- از ناحیهٔ کاندیداها:

البته همهٔ کاندیداها قابل احترام هستند، شخصیت شان قابل احترام است ولی تشویش ملت این است که در بین این یازده کاندید، کاندیدی که میتواند کشتی طوفانزدهٔ کشور را به ساحل نجات بکشد، با مشکل خواهد توانست راه پیروزی بپیماید، می پذیریم که همهٔ کاندیداها شرایطی را که قانون اساسی برای کاندیداتوری وضع نموده پوره کرده اند و بعد از آن از سوی کمیسیون مستقل انتخابات بحیث کاندیداهای قانونی اعلان شده اند؛ ولی تعداد آنها ملت را بدون ضرورت تقسیم میکند.

۳- تشویش از ناحیهٔ مداخلات:

این امر نباید پوشیده بماند، که امروز کشورهای متعد چه منطقوی و چه جهانی هم بنحوی در افغانستان حضور دارند و هم منافع، از همینجاست که افغانستان به مرکز کشمکشهای استخبارات مبدل شده است. فهلذا کشورهای منطقه و کشورهای بزرگ خواهی نخواهی درین انتخابات مداخله میکنند. چنانچه رابرت گیتس وزیر دفاع پیشین امریکا که اخیراً کتابی نوشته و به نشر سپرده است، اعتراف کرده است که ریچارد هالبروک نمایندهٔ قبلی امریکا برای افغانستان و پاکستان در انتخابات سال ۲۰۰۹ مداخله میکرده است و میخواست نتایج انتخابات را به صوابدید خود تغییر بدهد. هکذا داوود علی نجفی وزیر ترانسپورت افغانستان که در سال ۲۰۰۹ سمت ریاست دارالانشای کمیسیون انتخابات را بر عهده داشت اکنون اعتراف میکند که هالبروک و پیتر گالبرایت معاون یوناما در سال ۲۰۰۹ در انتخابات مداخله میکرد و چندین بار او را تهدید به مرگ نموده اند. پس اکنون چه تضمینی وجود دارد که چه امریکا، چه کشورهای دیگر ناتو و چه هم کشورهای همسایه و منطقه در انتخابات سال ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) مداخله نکند. فلهذا مشکل است بپذیریم که انتخابات آزاد، عادلانه، شفاف و عاری از مداخلات بیرونی صورت خواهد گرفت.

بدینگونه ملت افغانستان تشویش دارد که بیشتر مردم از حقوق حقهٔ خود که آن اشتراک بدون تشویش و هراس در انتخابات است محروم خواهند گشت و این محرومیت در انتخابات بدون شک بالای نتایج انتخابات میتواند اثرگزار باشد. شما تصور کنید که در مربوطات ۴۱۴ مرکز رای دهی چه تعداد از هموطنان ما زندگی میکنند؟ آیا محرومیت آنها نمیتواند نتایج انتخابات را تغییر دهد؟ فلهذا دولت ما و ارگانهای امنیتی ما مسؤولیت دارند تا امنیت مطمئن حوزه های متذکره را هم تأمین کنند تا مردم ما از حق دادن رأی به کاندیدای مورد خود محروم نمانند.

از سوی دیگر خود مردم هم مسؤولیت دارند تا با ارگانهای امنیتی همکاری صادقانهٔ کنند تا بتوانند ازین حق مشروع خود مستفید شوند. البته حضور نیروهای خارجی در افغانستان موضوع جداگانه است و موضوع انتخابات جداگانه. اشتراک درین انتخابات بدان معنا نیست و نه باید چنین تعبیر شود که رأی دادن به کاندیدای مورد نظر به معنای دادن رأی به ادامهٔ حضور امریکا و ناتو در کشور است، ما خواهان حضور هیچ کشور بیگانه در کشور خود نیستیم حتی مخالف حضور نظامی کشورهای اسلامی در کشور خود هستیم چه رسد به کشورهای غیر اسلامی. پس این دو موضوع نباید التباس شود و سعی شود تا زمان تدویر انتخابات زمینهٔ مطمئن تر انتخابات تأمین شود تا فردا کسی به حیث رئیس جمهور انتخاب شده بتواند که هم ملت از او پشتیبانی میکند و هم او میتواند ملت را ازین گرداب حوادث بیرون بکشد.

به امید آن روز

حبیب‌الله صافی

ایا د میلادالنبي جشن نمانځل د محمد صلی الله علیه وسلم د اطاعت نعم البدل کیدلی شي؟!

د افغانستان مسلمان ولس هر کال د ربیع الاول په دولسمه له خپل آخري رسول محمد صلی الله علیه وسلم سره د مینې د څرګندولو او د عقیدت د ګلونو د وړاندې کولو په خاطر د میلادالنبي ورځ لمانځي، علماء، خطیبان، لیکوالان، شاعران او استادان د محمد صلی الله علیه وسلم د سیرت، اخلاق، سخاوت، شجاعت، ایثار، همدردي، صبر، زغم، نظم، تنظیم، خواخوږي او پیرزوینې په اړه په زړه پورې معلومات وړاندې کوي، عام ولسي وګړي په دغو ورځو کې خیراتونه ورکوي او زیات شمېر مسلمانان روژې نیسي او پر محمد صلی الله علیه وسلم درودونه وايي. د ربیع الاول د میاشتې له تېرېدو وروسته بیا له محمد صلی الله علیه وسلم سره د مینې او عقیدت هغه خلوص او جذبه نه تر سترګو کېږي چې د میلاد النبي په ورځو کې تر سترګو کېده، په داسې حال کې چې له هغه صلی الله علیه وسلم سره مینه او دهغه پر سنتو بشپړ عمل کول پر هر مسلمان د ژوند تر آخرنیو سلګیو پورې فرض او لازمي دی، تر څو پورې چې پخپل ټول ژوند کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع او اطاعت پرځان فرض ونه ګڼل شي او خپل هره کړنه او عبادت دهغه صلی الله علیه وسلم د سنتو مطابق ترسره نه کړی شي نو یواځې یو کال او بل کال د څو ورځو د میلاد النبي د جشن په لمانځلو سره د مسلمانانو هغه مسؤولیت نه ترسره کېږي چې لوی الله وربانديې فرض ګرځولي دی.

الله تعالی پخپل سپیڅلی کتاب قرآن کریم کې په ډېرو څرګندو او واضحو ټکو کې فرمایلی دي چې: هر چا د محمد صلی الله علیه وسلم اتباع او منته وکړه هغه بیشکه د الله جل جلاله اطاعت وکړ او چا چې له هغه صلی الله علیه وسلم نه سرکشي وکړه نو هغه له الله نه یې سرکشي وکړه.

پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چې په تاسو کې هېڅوک تر هغه ایمان نه دی راوړی تر څو پورې چې زه هغه ته د هغه د مور پلار زامن او له ټولو انسانانو څخه زیات محبوب ونه ګرځم.

یوه ورځ محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې زما ټول امت به جنت ته داخلېږي مګر هغه څوک به نه داخلېږي چې انکار وکړي، اصحابو کرامو پوښتنه وکړه چې انکار څه شی دی؟ محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې زما اطاعت وکړ هغه به ضرور جنت ته داخلېږي او چا چې زما له اطاعت نه سرغړونه وکړه نو بیشکه هغه زما له اطاعت نه انکار وکړ.

ډېر افسوس چې زموږ په وګړو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اطاعت او اتباع جذبه تقریباً مړه او یا هم مړاوې ده، زموږ ټولنه، زموږ بازار، زموږ قضا، زموږ معاملات، زموږ دفترونه، زموږ سیاست، زموږ ناسته ولاړه، زموږ لباس، زموږ خوراک څښاک، زموږ عبادات، زموږ اخلاق، زموږ سیرت په مجموع کې زموږ ټول ژوند د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو نه په مخالف سمت کې روان دی. په داسې حال کې چې یو مسلمان تر هغه صحیح مسلمان او مؤمن نه شي کیدلی تر څو پورې چې خپل ټول ژوند د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو مطابق نه وي تېر کړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپلو مبارکو لارښوونو کې مسلمانان پخپلو کې د یو بدن غړي ګرځولي دي او په دې خبره یې تأکید کړی چې مسلمان ته بښکنځلی کول فسق او دهغه وژل کفر دی خو متأسفانه په دې هېواد کې نه د غلیظو کنځلو او سپکو سپورو څه کمی شته او نه هم د وژنو او ځورونو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول مسلمانان پخپلو کې ورونه ورونه معرفي کړي او ددوی ترمنځ هر ډول عصبیت یې حرام ګرځولي دی مګر دلته د افغانستان وګړي په نسلي ژبني او نورو ګنو تعصبونو کې ورپېتېږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم رشوت، درغلی، خیانت، حسد او کینه پر خپل امت ممنوع او ناروا ګرځولي مګر دلته هر څه په پراخه کچه روان دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونه کړې چې حکمرانان او چارواکي باید د خپل ولس خادمان وي خو دلته په افغانستان کې باداران دي، مطلق اکثریت چارواکي د خدمت پر ځای د باداري سلوک کوي او د رعیت پر حقوقو ګیده اچول خپل حق ګڼي. غصب په مطلق ډول حرام او په بیت المال کې خیانت کول په ګېډه کې د جهنم د اور اچولو سره تشبیه کړي خو په دې وطن کې لکونو جریبه دولتي زمکې د حکومتي چارواکو له خوا غصب شوي او بیت المال یې داسې چور او تالان کړي چې هېڅ یې پکې نه دي پرېښي.

محمد صلی الله علیه وسلم، زنا، لواطت، پر ښځو او پر نورو کمزورو وګړو ظلم او تیری، غلا، ډاکې، درواغ، بې عدالتي او فساد په سختو ټکو غندلي او مرتکبین یې د جهنم د اور او د الله تعالی د لعنت مستحق ګرځولي دي مګر په دې هېواد کې دا هرڅه په ډېر فخر سره ترسره کېږي.

د الله جل جلاله آخري استازی محمد صلی الله علیه وسلم د سنتو اتباع مخ پر کمېدو او د شیطان پیروي مخ پر زیاتېدو دی، زموږ پر هر کار شیطاني رنګ غالب او نبوي رنګ پیکه او یا نه تر سترګو کېږي، که زموږ د افغانستان مسلمانانو د محمد صلی الله علیه وسلم له اطاعت او اتباع نه د تېښتې او نه پاملرنې دا حال وي نو ایا یواځې هر کال د ربیع الاول په دولسمه د محمد صلی الله علیه وسلم د میلاد جشن لمانځل به زموږ ګناهونه جبران کړي، نه هېڅکله نه، زموږ بشپړ خلاصون او بری په دې کې نغښتل شوی چې د الله تعالی دین په صحیح معنا ومنو او محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند په هره څانګه خپل مقتدی او پیشوا وګرځوو.

شهادت
اونیزه

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل «خلیل»

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوي مطالب نه مستردېږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

« ایا له افغانستانه موږ درس اخلو؟ »

برېتانوي ډېلي سټار ورځپاڼې، له افغانستانه د امریکايي پیوهاوک هلیکپټرو له وتلو وروسته په دې هېوا کې د برېتانوي عسکرو ژوند په خطر کې دی، تر سرلیک لاندې په یوه مطلب کې لیکلي چې دغه الوتکې د خپل جوړښت او امکاناتو له پلوه په هلمند کې د روغتیايي چارو په برخه کې د برېتانوي عسکرو لپاره یو ډېرمهم عنصر بلل کېده.

ډېلي ستار لیکي، په تېرو شپږو کلونو کې د غو هلکپټرو په هلمند کې د برتانوي خواکونو په بشین اډه کې د دوه زره څلورسوو څخه زیاتو عسکر ژوند ژغورلی دی.

خو د ورځپاڼې په وینا دوي له تاکلي وخت یو کال مخکې د جګړې له ساحې وتلي او د لوړ پوړو پوځي چارواکو په خبره ځای یې هم په مناسب ډول نه دی ډک شوی.

ورځپاڼه په پوخ کې دننه منابعو په حواله لیکي؛ ویلي یې دي، د پیوهاوکس الوتکو نشتوالی د برتانوي عسکرو ژوند له خطر سره مخامخ کولای شي څکه برتانوي قومندانانو ویلي چې دوي داسې هیلکپټرې نه لري چې په خوندي ډول په مابنونو له پوښل شویو سیمو خپل عسکر په خوندي ډول ولېږدوي.

امریکايي میتروویست ډېلي نیوز ورځپاڼه، ایا له افغانستانه موږ درس اخلو؟،تر سرلیک لاندې په یوه مطلب کې لیکوال د هغو تصویرونو یادونه کوي چې؛ په ۲۰۰۹ کال کې اخیستل شوي او په کې یو امریکايي سرتیری له یوې افغان کورنۍ سره د مرستې کولو په حال کې لیدل کېږي.

د ورځپاڼې په وینا دغه عسکر په دې مرستې سره د یوه کلي د اوسېدونکوزړونه لاس ته راوړل، هغه څه چې د امریکا د بغاوت ضد ستراتیژۍ اساسي محور ګڼل کېږي.

خو د لیکوال ریک هولمس په وینا هغه وخت یې چې دغه تصویرونه لیدل چې مرسته کوونکی عسکر د اوسېنې له خولی نیولې د محاربې په ټولو وسایلو سمبال او د ستورو د جګړې یوه سرتیري ته پاتی کېده نو ورته داسې فکر پیداشوی و چې دغه ستراتیژي به کار ورنه کړي.

هولمس لیکي، روانه اونۍ بیا دغه تصویرونه هله ور په یاد شول چې د باب ګیټس نوي کتاب په ورځپاڼو کې غوغا راپورته کړه.

د لیکوال په وینا د امریکا د دفاع د پخواني وزیر رابرت ګیټس په کتاب کې ښايي ډېرشیان د خلکو لپاره حیرانونکي وي خو یوه هغو کې به د افغانستان د جګړې په اړه د اوباما په اداره کې د اختلاف مسله چې له مخکې ورځپاڼو ورته ډېر پام اړولی شامله نه وي.

لیکوال د افغانستان د جګړې په اړه د امریکا د ستراتیژۍ په وړاندې د یولړ ستونزویادونه کوي او لیکي، د روان میلادی کال په پای کې امریکايي عسکر له افغانستانه ووځي، طالبان تربل هروخت اوس ډېریباوړی دي، د مخدره موادو قاچاق بوخل بیا په دې هېواد کې زوراخیستی او د امریکايي ځواکونو د کلونو روزنې سره سره د افغان امنیتي ځواکونو اکثره غړي نا لوستې او د اعتبارووړندي.

دولسمشرحامدکرزي حکومت دنړۍ ترټولو فاسد حکومت دی او دا زموږپیسې دي چې دوی د سویس په بانکونکو کې ایښې دي.

میترو ویست ډېلي نیوزورځپاڼه لیکي، له افغانستانه په بریالي توګه وتل به هغه څه وي چې اوباما یې هیله کوي خوافغانستان له دې مخکې د مدني هځو په اړه د بهرنیو هېوادونو روسیې، برتانیا اونورو طاقتونو په وړاندې بریالی مقاومت کړی چې د امریکا تجربه هم استثنايي نده.

د لیکوال په باورد امریکا ترټولواوږده جګړه به پای ته ورسېږي او د بریالیتوب په اړه به یې اختلافات موجود وي خوپوښتنه داده چې ایا هغه به په داسې شکل پای ته ورسېږي چې امریکايي پوځي او سیاسي مشرانو ورڅخه یوڅه درس اخیستی وي.

پیام رئیس حزب اسلامی افغانستان...

در هر قدم پا به نقش پای مبارک او بگذارد، بخصوص ما مسلمانان که لله الحمد امت آن ذات بزرگوار هستیم، وظیفه داریم که اخلاق ما، سیاست ما، روابط اجتماعی ما، خلاصه همهٔ امور حیاتی ما از رنگی رنگ بگیرد که پیامبر بزرگوار ما، به ما به ارمغان آورده است. ما که روز مبارک و خیلی مبارک مولود با سعادت پیامبر مقدس خود (صلی الله علیه وسلم) را جشن میگیریم، باید تجدید عهد نمایم که در هر قدم، قدم بر نقش قدم مبارک او بگذاریم و با شعار قرآنی:((إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ)) از دل و جان برای حاکم کردن دین خدا و پیامی که توسط پیامبر بزرگوار ما برای ما آورده شده است کوشا باشیم. بایسته است که اولتر از همه خود را پیرو راستین پیامبر اکرم (صلی الله علیه وسلم) بگردانیم و بعداً بحیث یک داعی راه حق پیام محمدی (صلی الله علیه وسلم) را به همهٔ جهان برسانیم.

والسلام علیکم و رحمت الله و برکاته
برادر شما
عبدالهادی ارغندیوال
رئیس حزب اسلامی افغانستان

دافغانستان او سیمې دسولې په اړه...

"دا له دې کبله د استانبول د پروسې د غونډو د اجنډا اساسي برخه ده چې سوله په افغانستان او هم د آسیا د زړه په لویه برخه کې د خلکو تر ټولو مهمه اړتیا ده. که سوله نه وي نو د سیمې په سطحه د اقتصادي همغږی، آرامتیا او هراړخیزې همکارۍ د پیاوړتیا اهداف به له لویې ستونزې سره مخامخ وي او بل دا چې د سیمې د هېوادونو امنیت له یو بل سره تړلې دي او پر یو بل اغیز کولی شي."

د استانبول پروسه ۲۰۱۱ کال کې پیل شوه چې له مخې یې د غړو هېوادونو چارواکي په خپلو کې د امنیت، اقتصاد په ګډون په بیلابیلو مسایلو کې د همکاریو په اړه غونډې کوي.

په دې غونډو کې د روسیې، قرغزستان، ترکیې، اذربایجان، هند، متحده عربي امارات، سعودي عربستان او د افغانستان د شپږ ګاونډیو هېوادونو استازي برخه اخلي.

په دې برخه افغانستان د یوه داسې کلیدي هېواد په توګه مطرح شوی چې کولی شي د منځنۍ، مرکزي او جنوبي آسیا هېوادونه سره وتړي او د ټولو ثبات تر تاثیر لاندې راولي.

که څه هم د سیمه ییزو چارو یو شمېر کتونکي د آسیا د زړه هېوادونو د غونډو دغه بهیر په ټوله کې د سیمې د هېوادونو تر منځ د همکاریو د پراختیا لپاره ښه تیوري او نظریه بولي، خو وایي، باید پرېکړې یې عملي هم شي.

په افغانستان کې د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز مشر عبدالغفور لیوال وایي؛ که چېرې د سیمې د هېوادونو اجرایوي او پالیسي جوړوونکي کړی په خپلو کې همغږي پیدا کړي نو دغه پروسه به بریالی وي.

خو ښاغلی لیوال زیاتوي چې؛

دا مهال د هند او پاکستان خپل منځي اړیکو د دغو سیمه ییزو هڅو د بریالیتوب مخه ډب کړې ده.

"لوی مشکل د دغو ناستو د نتایجو د عملي کولو په برخه کې له بده مرغه د پاکستان او هند اړیکي دي. همداغه ډول چې د دغو دوو هېوادونو اړیکو د سارک سیمه ییز سازمان له ناکامۍ سره مخامخ کړی دی، دغه د سیمه ییزې همکارۍ تیوري یې هم له ماتې سره مخامخ کړې.

له بده مرغه پاکستان هم د افغانستان د ثبات لپاره او هم له هند سره د دوی مناسبات د یوه لوی خنډ په توګه مطرح دي او لاهم د سیمې هېوادونه نه پوهېږي چې د دغې ستونزې د هوارې لپاره کوم بېړنی او عملي اقدام باید وشي."

اروپايي ټولنه، امریکا او د ملګرو ملتونو سازمان د استانبول د پروسې ملاتړي دي.

ټاکل شوې د هند ترناستې وروسته د آسیاد زړه هېوادونو لوړ پوړي چارواکي په چین کې سره راټول شي چې؛ د افغان چارواکو په خبره بیا به هم د خبرو د سر ټکی د افغانستان او سیمې د امنیت مساله وي.

شورای انسجام شهر کابل ...

دیپلوم انجنیر صاحب نیک محمد در مقر دفتر مرکزی حزب اسلامی واقع ناحیه پنجم، خوشحال مینه دایر گردید. موضوع قابل بحث جلسه مذکور تحلیل از وضع سیاسی و تصامیم لازم در مورد انتخابات آینده سال ۱۳۹۳ تشکیل میداد که برادران هر یک به نوبهٔ خود پیرامون موضوع سخنان ارزشمند را ارائه فرمودند و در هر مورد تصامیم مقتضی اتخاذ گردید، به اساس فیصله جلسه مذکور برادران حاضر غرض ملاقات با جناب عبدالهادی اوغندیوال رئیس حزب اسلامی و انجنیر محمدخان کاندید معاونیت اول ریاست جمهوری و معاون حزب اسلامی به حویلی سیاسی حزب تشریف برده اند، که از طرف مقام ریاست حزب مورد پذیرایی گرم قرار گرفتند، رئیس و معاون حزب هر یک بالنوبه بعد از ابراز تشکری از فعالیتهای حوزه مرکزی کابل و تحلیل اوضاع سیاسی مسؤولین و برادران نواحی مختلف را به مسؤولیت های خطیر آینده شان پیرامون تقویت ساختاری حزب و انتخابات ریاست جمهوری متوجه ساختند.

جلسه بعد از ابراز احساسات برادران و تشکری محترم دیپلوم انجنیرصاحب نیک محمد از حضور گستردهٔ برادران و ارائه مطالب سودمند جناب رئیس و معاون حزب اسلامی پایان یافت.

امریکايي او برتانوي کمپنۍ ...

د امریکا او برتانیا د شرکتونو کنسرشیم ته ورکړل شوې ده. د دې کان قرارداد په ۲۰۱۲ کال کې د AGMCپه نوم شرکت ته ورکړل شوی و خو د افغانستان د کانونو وزارت په تېره اکتوبر کې یوازې د دې کان د رغونې پر شرایطو موافقه ورسره کړې وه، خو دا دی اوس دا قرارداد په رسمي ډول دې کمپنۍ ته ورکړل شو. یادشوی شرکت وایي، د کان ساحه چې په قرارداد کې شامله ده پنځه سوه کیلومتره مربع مساحت لري او د اټکل له مخې له سل میلیونه ټن زیات مس به په کې وي.

له قوانینو بهرنۍ سرغړوونکي ...

بلل کېږي، خو په افغانستان کې د پانګونې د ملاتړ اداره ایسا وایي د صنعتي پارکونو د ځمکې د ویش د نوي تګلارې پر مټ به هغه ځمکې مستردې شي چې صنعتي فعالیت په کې نه کېږي. ددې ادارې مشر وفي الله افتخار وویل یواځې د کابل په پلچرخي صنعتي پارک کې له پنځوس سلنې به زیاته برخه کې صنعتي فعالیت نشته.

ښاغلي افتخار زیاته کړه چې؛

د نوې پالیسۍ له مخې د نویو ځمکو د ویش شرایط سخت شوي او یوازې پر هغه چا به ځمکه وېشل کېږي چې صنعتي فعالیتونه کوي.

ښاغلي افتخار زیاته کړه چې تر اوسه یې په پنځو ولایتونو خوست، پروان، لوګر، کندوز او د هرات صنعتي پارک د څلورمې برخې ځمکې تصفیه کړې دي.

د ایسا مشر وایي، په روان کال کې به پام کې لري چې له لسو تر پنځلسو میلیونه ډالر د صنعتي پارکونو په جوړولو ولګوي.

خو افغان صنعتکاران د انرژی کموالی او د صنعتي پارکونو د ځمکو غصب د دوی د فعالیت پر وړاندې لوی خنډونه بولي.

د افغانستان د صنایعو د ټولنې مرستیال عبد الجبار صافي د ځمکو د وېش نوې تګلاره پر ځای خو ناوخته ګام بولي نوموړی وایي اصلي ستونزه د دولتي ادارو ترمنځ د همغږی نشتوالی دی.

ایسا وایي د ۲۰۱۲ کال پرتله په ۲۰۱۳ کال کې د پانګونې کچه ۲۵ سلنه لوړ شوې وه او په پام لري چې په ۲۰۱۴ کال کې د دغې کچې د لا ډېرو لوړلو لپاره صنعتي بانک رامنځ ته شي، چې کیدای شي هغه بانک پښتني بانک وي.

دا بانک به ټیټه ټکټکانه پانګوالو ته پور ورکوي. له دې وړاندې ولسمشر حامد کرزي د سل میلیونه ډالرو د پانګې په لرلو د یوه وجهي صندوق د رامنځ ته کولو په اړه یو فرمان صادر کړی وو خو تر اوسه نه دی عملي شوی.

داسې ښکاري چې افغان حکومت غواړي له افغانستان د بهرنیو ځواکونو دوتلو په درشل کې اوله دغه هېواد سره د مرستیو د کمېدو په درشل کې پانګونې ته زمینه برابره کړي خو داسې ښکاري چې پانګوال لا هم په حکومتي ادراو کې د شته ناخواله له امله ناخوښ دي.

په افغانستان کې د پانګونې د ملاتړ اداري ایسا د فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې کمیټې هغه راپور رد کړ چې ګواکې په دغه اداره کې دولت دارایي د ناوړه ګټې اخیستې له خطر سره مخامخ ده.

په هغو سپارښتنو کې چې په دغه راپور کې راغلي غوښتنه شوې چې د ایسا چارې باید وڅېړل شي.

د فساد په وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې کمیټه وایي ایسا له ۱۳۸۵ کال راهیسې د تفتیش عالي ادارې ته اجازه نه ده ورکړې چې ددغه اداري مالي چارې له نږدې وڅارې.

د د غې کمیټې په سپارښتنو کې دغه راز ټینګار شوی چې آیسا ته د صنعتي پارکونو د زرګونه جریبې ځمکې د ورسپارلو جدي اندیښنې پیداکړې دي.

خو د ایسا مشر رفیع الله افتخاري دغه راپور ردوي او زیاتوي چې دا د ایسا په وړاندې یوه دسیسه او غیر مسؤولانه دي.

ښاغلي افتخار وایي د ایسا فعالیتونه د افغانستان د خصوصي پانګونې د قانون په رڼا کې فعالیت کوي؛

"دا خبرې اساس نه لري، د ایسا ادراه هره لحظه اماده چې هر ارګان ته چې وي حساب ورکړي. مو تل خپل راپور د پانګونې عالي اداري ته چې اوه وزارتونه په کې غړیتوب لري خپل راپور ورکوو.

زموږ ټول فعالیتونه د هېواد دمالي سیستم سره برابر دي. زموږ اداره هر کال د بېلابېلو حکومتي ادارو له خوا ارزول کېږي. او هر دولتي ارګان چې غواړي زموږ اداري په اړه څېړنې وکړي موږ یې مخه نه ده نیولې او نه یې ونیسو. خلکو او حکومت ته حساب ورکول، روڼتیا او قانونمندي زموږ لومړیتوبونه دي."